**لیکونکی:** فلیپ ګیرالدی(Philip Giraldi).
**منبع او دخپریدو نیټه** : ګلوبا ل ریسرچ «20-12-2019. »
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل» .
{1} ------------------------------------------------------------

# دا فغا نستنا ن خند یدونکي ماتي او دامریکا یی نظا میا نو زوال او را نسکوریدل

## The Afghanistan Fiasco and the Decline and fall of the American Military



یو ویجا ړونکي څیړینیزراپور د د سمبر د میا شتی (نهمه) په واشنګټن پوست کي خپور شو، دغه راپور دافغانستتان پر مقا لاتو باندی په ډېه لګولو سره دویتنام دجګړی دپنټاګون مشهورو مقا لو ته په اشا ری زرګونو سندونه په ورته بڼی سره ښیی ،چي دامریکی داولسمشری په سطح د دری ادارو( د امریکی د دری اولسمشرو دزمامداری په دوران) په اوږدوکي دمتحد ایالاتوحکومت څنګه دنظامی ځواکونواودملکي همکارانو په بیرو کراتیک چلند سره عمل کوی او په قصد ی اوسیستیما تیک ډول دا فغا نستا ن

دوضیعت په اړه خلکو اورسنیو ته په وا ر وا ر درواغ ویل شوی .
د **بوش** ، **اوبا ما** او د **ترامپ** د اداری لوړپوړی چا رواکي پخپل وارسره افغا نستا ن ته ا ضا فی نور کمکی سرتیری واستول اوپه عین حا ل کي په منظم توګه د خپل بریا په هکله دا سی تبلیغات کول چی متحده ایالات په هغه هیواد کی د د موکراسی په پلی کولوکی سترلاسته راوړنی ترلاسه کړي دي ،حا ل داچي دوی له سره سره بلکل دروغ ویلی اودا ځکه دامریکی جګپوړی افسران او حکومتی چارواکي په روښا نه توګه پوهیدلي او یا په دی با ور وه چی دغه جګړه په واقیعت کي غیر قا بل توصیف اویا یونه ګټونکي جګړه دي.
دغه روا یت یا دغه کیسه با ید وه چي په ټوله امریکا کي ښود ل شوی وایي او هغه داچي ا فغا نستا ن د ا مریکا یا نو اود ډیرشمیر ا فغا نا نو وژلو ته دوام ورکوي او هم دامریکی له خزا نی څخه په ملیا ردونو ډالررا وبا سي .اما اصلی رسنی تر زیا ته حده پوری ددی مطلب ځواب ویونکي نه وه بلکه داستیضاح پوشش ته لمړیتوب ورکول .
اما دیولیسود ضما نت د اداری څخه د دوهمی درجی افسرانو هریو **دوید سی کنادل** (David .c. Knadle) (33) کلن د تکزا س له تا رنت (Tarrant) ا **وکریک تی** (Kirk.T. Fuchigami.Jr) «25» کلن د کیوایی(Keaau) له ها وایی ولایتونو څخه کوم چي دواړو د نومبر د میا شتي په شلمه نیټه کي د هلیکوپټر د تصا د م له امله د لوګر په ولایت کي چي د خپلو ځمکنی ځواکونو سره له هوا څخه مرسته ترسره کول خپل ژوند دلاسه ورکړ نو دهغو کورنی دامریکی دلوړ پوړی چا رواکي پر ضد ډیر سخته غبرګون وښودل. د پنتا ګون د مطبوعا تی خپرونو داطلاعاتو په قول دواړو مړو افسرانو ته د (Operation Freedom Sentinel) لقب ورکړل شو. دا دواړه افسران د لمړی **بتا لین** (نظامی واحد)، «227» دهوایی **رژیمت** لمړی **هوایی کبیلیر** (Cavalry) بریګا رد د تکزاس په **فورت هوډ** (fort hood) کی د سواره نظا م جزوتا م پوری مربوط افسران وه کوم چی طا لبا نو دهغو د چورلکی در انسکورولو مسولیت پرخپل غاړه واخیست کوم چي دامریکی پوځ لا تراوسه د هغو د چورلکی د را نسکورید و په ا ړه څیړنی کوي .

د **کنا د ل** (Knadle) او **فوجیګا می** (Fuchigami) ددغه دوه نوی تا زه وژنی څخه سربیره داکتوبرد میا شت له کا ل (2001) څخه راهیسی (2400) امریکا یی سرتیری مړ او( 20589) نور امریکا یا ن ټپیا ن او نژدی (110000) ا فغا نی سرتیری خپل ژوند په ا فغا نستا ن کي دلاسه ورکړی دي ، د واشنګټن پوست د را پور په پا یله کي **دانیل ایلسبرګ** (Daniel Ellisberg) کوم چي هغه په کا ل (1974) کی د پنټا ګون خپرونه یی فا ش کړی وه د (سی ا ن ان) راپورتریا خبریا ل ته وویل : چی د پنټا ګون اودا فغا نستا ن مقا لی همغه ورته حکومتی نیمګړتیا وی څرګند ه کړي یا د دولت همعه د کړنو اختلا ل لړلید یی د لید نی په معرض کی اچولی او هغه داچي دامریکی جمهورو ریسا نو و د هغه هیواد لوړپوړی جنرالانو کوم چی د هغو نظرونه ورته وا قعبینا نه نظرونه ښکا ریده اما دهغو نطرونه د خلکو پر ضد نظرونه وه یعنی چی خلک دهغو نظرونه نه تا یید ول یا داچی نه تا ییدوی وی هغو ی هم ونه غوښتل چی خپل نظرونه د خلکو سره شریکه کړي .

## نوی جمهوری غو ښتونکي څنګه وینې ؟

« نوموړی ا سنا د نه یواځی داچي دامریکي دمتحده ایالاتو د دولت د بهرني پا لیسی یوه برخه رټوی ، بلکه د هغه هیواد دپا لیسی جوړوني ټول سیستم او یا د ستګا ه هم را محکوموي- هغوی دوه اړخیز اجماع یا ډ لی په ګوته کوي یا دی ته مجبوروی چي په ا فغا نستا ن کي د موجوده وا قیعا تو په اړین دروغ ووایي یعنی داږودی مودی د ضا یعا تو ، اوږد مها له فساد د یوی نا وړی پرمختیا یی بد طرحي آنځور وروسته یوله بل څخه کوم چي پا یله یي په هیواد کي د سولي اود هوسا ینی په راوستو کي تقریباً ناپیزند ل شوی یا داچي یوه نا کامی وه ، دواړه خواوو په دی زمینه کي د خپل ونډی اخیستو لپا ره دځا ن سره د لیل در لود ل : د **بوش** د دولت لپا ره افغانستان د ترهګری پر ضد جنګ کی یوه کلیدی ځا نګړتیا لرل اود **(اوباما)** داداری لپا ره دا فغا نستا ن جنګ (ښه جنګ ) وه چی په عرا ق کي د بد و خوبونو (کا بوس) سره مخا لف وه . » .

د ا فغا نستا ن د جنګ ا صلی او یا ریښتینی مصا رفا ت اویا ما لی لګښتونه هیڅکله

د قیقاً نه دی محا سبه شوي ، ګرچه په ا طمینا نی ډول سره دغه مصا رفا ت له یو تریلیون ډ ا لر څخه ممکن زیا ت وي ، اما په دی سندونو یا دافغانستا ن په کاغذونو کې چي واشنګټن پوست پرهغه با ندي تکیه کوي یعنی په هغه (2000) صفحوی اسناد کوم چی دغه اسناد دهغو افرادو د مصا حبی یا دمرکي محرم خبری اتری دی چي دا فغا نستا ن په جګړه کي مستقیم نقش لرل او هغوی یوشمیرسرتیری ، د ییلما تا ن او همد ا رنګه د ملکي مرستند ویوکا رمند ا ن اوافغا نی چا رواکی دي. اما ددی مرکو اود مصا حبوپه لړ کی اوله ټولو په سرکي ډیری مصا حبه د ا فغا نستا ن دبیا رغونی لپا ره د ځا نګړي عمومی پلټونکي (سیګا ر) لخوا ترسره شوی دي. واشنګټن پوسټ ددغه مرکي او ملاتړ شوی ا سنا د و موضوع په کتګوری با ندی ویشلي دی اوداسی په ګوته کړي چي څنګه په ا فغا نستا ن کي وضیعت اویا حالات مخ په خرابیدو پیل کوي ، ځکه چي متحده ایالات د ملت جوړونـي پلان سره خپل ګړندي بیرغل تعقیبول او وضع په افغانستان کي خرابیدو خواته مخه کړی وه اودامریکی د معمول مصلحت له مخی ، اشغا ل کونکی د پیسو اود سترو مبا لغو سره دغه هیواد ته ور د ننه شول او هغه هم د دی اصل په نظر کي نیولو سره چي یواځی هغه څه چي په نرمه اویا ستړه خا وره کي را شنه کیږی هغه « فسا د » دي غیر له هغه چي د خشخا ش کرونکو کروند ګرو کوم چي د خشخا ش په کرلو سره ا فغا نستا ن یی په نړي کی د تریاکو مخکښ عرضه کونکي هیواد با ندی واړول .

## ا فغا نستا ن د متحده ایالاتو د تا ریخ ترټولو اوږده جګړه : هیر شوی مګر له مینځه نه دی تللي !

یو قراردادی یا پیما نکا ر چي د ملت جوړوني د پروژی په برخه کي ونډه درلوده تشریح کړه : چي څنګه هغه ا ړتیا درلوده چي هره ورځ د (دری) میلیون ډالرپه اندازه د ا فغا نستا ن په یو اولسوا لی کي د پروژو لپا ره د متحده ایالاتود یو ولایت په مقیا س سره پیسی په مصرف ورسوي ، نو هغه د ا مریکی د متحده ایالاتو دیو ویزت کونکي کنګرس من څخه سوا ل وکړ چي آ یا هغه ته د دی جوا ز شته چي دغه ا ندازه پیسی د متحده ایالاتو په د ننه کي مصرف کړي [ قا نونګذ ا ر] وویل دوزخی نه ! نو سوال

کونکي هغه ته ووېل ښه جنا به ! دا تا سی ویی چی مونږ دی ته اړکړو چی دا پیسی په مصرف ورسوو اوزه دغه کا رد داسی تولنو لپا ره سرته رسوم چي دهغه ټولني خلک په ختېنو کورونو کی ژوند کوي ! .کوم چي کړکي نه لری .

په دی راپوریا اسنادو کي په یوه بله مرکه کی د **جنرال دوګلاس** ( Douglas Lute) د(بوش) اود (اوباما ) د زمامداری په وخت کي د سپینی ما ڼی تزارله قوله چي په کا ل (2015) مرکه کونکي ته ووېل : مونږ د ا فغا نستا ن دموجوده حالاتو داسا سی در ک او پوهېد و څخه عا ری او مجزا یوو! ، مونږنه پوهېد لوچي مونږ څوک یوو؟ وروسته هغه زیا ته کړ : مونږ د لته د څه لپا ره هڅه کوو ؟ مونږ دهغه په ا ړه د قیقاً تصور نه لرو چی مونږ یي په لاره واچوو .؟

دامریکي دمتحده ایالاتودپوځ دګروا ل **با ب کرولي** (Bob Crowley) چي په کا بل کي په کا ل (2013) او(2014 )کي دندی اجراکړي دمرکزی دفتر دکار پرڅرنګوالی باندی رڼا واچول او څرګند ه کړّ : اوهغه داچي نوموړی اداره د ارقا مو اود احصا یو په هر برخه کي ترهغه چی د خپل خوښی هد ف تر لاسه کړی لاس وهی یعنی چي ارقا مو ته تغیرورکوي هغه د بیلګي په ښه دا سی یاده کړ : اوهغه داچي هغوی په هڅه اواند سره هر نا با ورمند مسله په با ورمند ښه سره را ا ړوی یعنی هرهغه څه چي مونږترسره کول هغه بلکل صحیح اودرسته وه یعنی چی مونږ په دا سی کسا نو با ندي اغوښتی وه چي مونږ پخپل لاسونو کی خپل مخروطی شکله آ یس کریم ځټل .

له ا فغا نستا ن سره د ستونزو یوه بله برخه یو ا ویا د یوی کا ل څخه د څه کم ا و زیا ت مودی په تیرید و سره امریکا یی سرتیرو کی یو څه چرخش یا بد لون را مینځته شو لکه همغه شا ن کوم چی هغوی دهیواد اودهغه د یولړ ستونزو سره مخامخ وو . اودا اوس په یوه توقي (طنز) با ندی اغوښتی دي اوهغه دا چي متحده ایالات :

« په افغانستان کي اتلس کلنه جګړه نه وه کړی ، بلکه (اتلس) ځلی په یو کا ل کی سره جنګیږي .»

دواشنګټن پوسټ تحقیقا تي راپورپه عین وخت کي دامریکي دمتحده ایالاتودپوځ دیو په زړه پوري د کړنی څرنګوالي ته په ا شا ری با ندي **د یوید سوانسن** (D.Swanson)

د نړۍ تربل جنګ یا د نړۍ د جنګ هغه خوا باندي دویسټ پوینټ (West point) دپوهنتون **دپروفیسور تیم بالکنس**(Tim Bakken) پرنوی تا لیف شوی کتا ب اودهغه دوظیفه شنا سی په ا رزښ با ندي یو اوږد بیا له سره داسي کتنه کوي : اوهغه داچي دامریکی د غرور او دهغه هیواد د پوځ دعدم موفقیت په اړه ښکا ره څرګندونه کوي – هغه د **سوانسون** په کتاب کی دفساد ، وحشت ، تاوتریخوالي اودغیر قابل ارزیابی اوهم دامریکی دمتحده ایالاتو له نظامی اکادمیو [ **ویسټ پوینټ** ، **آناپولیس** ، **کلرادو اسپرینګز**] څخه بیا د ا مریکي د نظامي اودامریکي د دولت د پا لیسی اوله هغه ځا یه څخه بیا د ا مریکي پراخه کلتور چي په پا یله کي دپوځ فرعی فرهنګونو چی درهبرانو له خوا ملاتړ کیږی لاره تعقیبوی .

کنګره اود ا مریکی د متحده ایالاتو جمهورو ریسا نو د ا مریکي جنرالانو ته ستر قد رت ورکړي دي تر دی ځا یه پوري چی دامریکي دبهرنی چارو وزارت اوحتی دامریکي د سولي ا نستیتوت په بشپړه توګه سره خپل ځا ن پوځ پوري وابسته ګڼی ، شرکتی رسنی اوعامه خلک د خپل پوره لیوالتیا سره هر هغه څوک چي د امریکی د جنرالانو سره مخا لفت وکړي د وی دهغو مخا لفت غندي حتي اوکراین ته دوړیا وسلو ورکول سره مخا لفت غدا ری او خیا نت ګڼي .

**با کن** (Bakken) حتی دغه نظریه چي نظا می اکا د مي مشاجره داکا د می لوړ علمی معیا رونه دی مخا لفت کوی ،هغه تشریح کوي چي «سیستم» څرنګه د با لقوه ورزشکا رانو د جذ ب او هغه زده کونکي ته پا م ور ا ړوی چي د کنګرس له خوا په مجد د ټولټا کنو کی دا نتخا بید و لپا ره ورپیژندل کیږی او هغو سره منا سب ما لی مرستی هم ترسره کوي ، سوانسون داکادمیو دځرنګوالي په لیدو کوم چي دټولني د کالج «فاکولتي» دزده کړی کچه یواځی په ډیرځوروني ، تاوتریخوالي اود کم تجسس سره وړاندی کوی .ویسټ پاینټ (نظامی اکادمی) سرتیری رانیسی یا استخداموی اوبیا دوی یی استادان اعلانوی کوم چي یو څه کار کوي اوهمدارنګه هغوی مرستندوی ، یا ملت جوړونکی اویا د سولي سا تونکي نوموی – دغه موسسه یا مد رسه محل ته نژدی امبولانسونه چمتو کوی تر څو چي د تاوتریخوالي د راپیښید و په مراسموکي

امادگی ولري – څوک وهل دنیاز یو مورد دی ددی دری اکادمیو ښځینه کارکونکي د نورو ټولو اکاد میو په پرتله پنځه برابر تر جنسی تجا وز لاندی پریوځي .

**بیکن** په پای کې وویل چې د متحده ایالاتو په وسله والو ځواکونو کې د بنسټیزو جوړښتي نیمګړتیاو تعریف "په اردو کې د نیمګړتیا و روښا نه پوها وي لامل کیږي او دا چې امریکا څنګه جنګونه له لاسه ورکولی شي." په حقیقت کې هغه حتی د داسې جګړې پېژند لو هڅه هم نه کوي چې متحده ایالات یې لري د دوهم نړیوال جنګ څخه راوتل په داسې حا ل کې چې دا هیواد نږدې په دوامداره شخړو کې ښکیل دی.

د **بیکن** کتا ب اود ا فغا نستا ن کاغذ ونه یا مقا لي په ګډه دا په ډاګه کوي چې د دوی د مشرانولخوا د متحده ایالاتوخلک څومره د جګړې دوام لرونکي داستا ن بیا نوي چې د حقیقت څخه ډ یر افسا نوي دي. **ډونلډ ټرمپ** شا ید واقعیا تعریف کړی وي چې رایې ورکوونکي له جګړو ستړي شوي وو ا و په همدې ا سا س ټاکل شوی و یا هغه دامریکی ریس جمهور شو، مګر هغه د بیرته ستنیدو په اړه د خپلې ژمنې په پوره کولو کې پا تې راغلی. نودا وړاند یز کوي چې امریکا به د را تلونکي نا معلومی مودی لپا ره په ا فغا نستا ن کې پا تې به شي او راتلونکې نا څرګنده جګړه به هرچیرې چې وي ودی وي چی داپخپله به یوه بله ناکامي وي ، پرته لدې چې په( 2020 ) کې څوک وټا کل شي.

## دلیکونکی په اړه څو کرښی :

فیلیپ ایم ګیرالدی ، پی ایچ ډي ، د ملي ګټو لپاره د شورا اجرایوي رییس دی ، د 501 (c 3) مالیه تخفیف تعلیمي بنسټ (د فدرالي ID شمیره شمیره # 52-1739023) چې د متحده ایالاتو د بهرنی پالیسی پر بنسټ د ډیرو ګټو پر بنسټ هڅه کوي په مینځني ختیځ کې. ویب پاه کونسلفورتینشنلینټریټ آرګ آرډس ده ، پته د POO ده. 2157 بکس ، پورسیلویل VA 20134 او د دې بریښنالیک په بریښنالیک@cnionline.org دی.

هغه د نړیوالې ځیرنې په دوامداره توګه مرسته کونکی دی.

**------------------------** **په درنا وی** **(01-01-2020)**